مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال

۲۰۲۳/۰۳/۰۷

# د پانګوال ښکېلاک لويې موخې

نومهالی پانګوال ښکېلاک ډېر ښه پوهيږي، چې څنګه مو د تکفير په زور ويده وساتي.

چې زړه سواندي ملتپال خلکو ته وو‌ايي:

درس ولولئ، ساينس زده کړئ، پوهنه ترلاسه کړئ!

نو د ښکېلاک روزلي وار له مخه ولس ته وو‌ايي:

ساينس او پوهنه که ډېره ښه شي، نو ايله يې (مباح) وګڼو او که نه مکتب کفر، مکتبي کافر، پوهنتون سوچ کفر او پوهنتوني زنديق دی.

چې ولس ته ورته وو‌ايي:

پر خپلو نجونو درس ولولئ، ويښ، هوښيار، روښانه او پرخپلو پښو ولاړ ملت يوازې د لوستيو ميندو په لمن کې روزل کېدلای شي.

نو دا خو يې وخته په غوږ کې ورڅڅولي وي، چې د نجونو تعليم ( لرې دې زما له خولې وي) فحشا ده، کفر دی، ښځې د کور و ګور دي.

چې ورته وو‌ايي:

د دې خاورې هر انسان حق لري، پوه شي، چې د فردي، ټولنيز او ملي ملکيت او مالکيت په معادله کې د ده حقوق او مسئوليتونه څه دي؟

نو دا خو ځکه شين کفر دی، چې دا ټول مفاهيم او اصطلاحات د مدني حقونو دي، د ټولنيز ترون پر بنسټ ټاکل کيږي او دا هرڅه کفري، غربي او ضد اسلامي دي.

ولس په همدې کفر و اسلام کې راګير دی او پانګوال ښکېلاک خپل زبېښناک ته دوام ورکوي. ځيني رانه پوښتي، چې ښکېلاک له داسي دسيسو څه غواړي؟

پخوا مي هم ليکلي او دا دی بيا يې درته ليکم:

پانګوال ښکېلاک درې لويې موخې لري:

۱ ـ جاهل، بېسواده، احساساتي او په دروغجن حماسيت و لاپو شاپو رالوی شوی ايډيولوژيک تورزن و شمشېرزن نسل وړيا ځانمرګي جنګيالي دي، چې دوی په سيمه کې خپل سيالان پرې ډاروي.

۲ ـ تر هغو چې په جهل و جنګځپليو ټولنو کې شخړې او جګړې رواني وي، د پانګوال زبېښناک د وسلو او باروتو کارخونې به چليږي.

ښه فکر وکړئ،

د ښکېلاک و زبېښناک د وسلو تر ټولو لويو پانګونو ژرندې په څه چليږي؟



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولــئ

د افغانانو، سوريانو، عراقيانو، يوکراينيانو او لسګونو نورو ولسونو د وينو په ويالو .که دا ويالې ودريږي، نو پانګوال به خپل ټريليون ډالري پانګه څنګه په دوران کې ساتي؟

ايا کله مو له ځانه پوښتلي، چې ولې په افغانستان کې ولس د دوه روپيو وچه ډوډۍ موندلای نه شي، خو د ميلیارډونو ډالرو وسلې، ګولۍ، باروت او بمونه تل پريمانه دي؟ ايا دا هرڅه زموږ په پټيو کې راشنه کيږي؟

زه د توطئې پر تيورۍ باورمن نه يم، څوک دې دغې پوښتنې ته ځواب ووايي:

د تېرې نيمې پېړۍ جګړې ته ولې په دومره سخاوت باروت و وسلې راروانې دي، خو ډوډۍ او درمل نه شته؟

۳ ــ زموږ سرچينې، اوبه او اينرژي؛ ټوله افغانمېشته خاوره له خورا کميابو او زريابو سرچينو ډکه ده. موږ يې په خپلو کې د کافر و مسلمان په شخړه ښکېل کړي يو، څوک خبر دي، چې زموږ له سکرو، ګرانبيه ډبرو، ستراتيژيکو کانونو، روانو اوبو او زرګونه نورو شتمنيو سره څه روان دي؟

موږ په خوب ويده، بې زده کړو او هر څه ته له تکفيري کړکيو کتونکي خلک د هېلمند له زمکلاندې خزانو خبر يو؟ دا پوښتنې مو له ځانه کړې، چې ولې تل پر هېلمند جګړه روانه وي؟

د شمال له کانونو، روانو اوبو، د بدخشان له ميليار ډالري زېرمو، د پنجشير له لاژوردو او زمردو، د سکرو، تېلو اوRare Earth ، سلګونه ډوله موږ ته ناپېژانده توکيو نه خبر يو؟

د وزيرستان له مېسو، سرو زرو، يورانيومو او نورو لسګونو قيمتي کانونو خبر يو، چې څه ورسره روان دي؟ توره ارتجاع، سره پيږه، ژېړ ښامار او نور مور و ملخ به مو نو څنګه په کرار پرېږدي؟

زه باور لرم، زما همدا خبرې هم کفر ګڼل کيږي.

ښکېلاک يوازې يوه وسله لري، هر ملي، وينتيايي، روښانتيايي او بدلون راوستونکی بهير تکفيروي. خبره ساده ده، خو موږ پرې نه پوهيږو.

-------------------------------------------------------------------------------

**اول نوټ:**

هغوی چې وايي: وخته دې ولې نه ويل: ځان دې په سپکاوي نه پازابوي، زما ټېرو پينځلس - شل کلنو ليکنو ته دې د سر ورښکارولو ستوماني وګالي، ستونزه به يې حل شي.

**دويم نوټ:**

په عکس کې د وزيرستان له دته خېل څخه د کاني زېرمو زبېښاک وګورئ، خلک يې بايد يو بل ووژني، که نه دا کانونه به دوښمن څنګه وړيا وړي؟







افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ